AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ژباړه: سمسور ودان ۲۰۲۳/۰۴/۱۷

# د امرتسر کی یادیں (ناول) څو کربنې

زه نه یم خبر چې مینې نه وروسته بیا مینه کیږي که نه؟ خو دومره پوهېږم چې یوه اونی وړاندې د راجدې نکاح وشوه، هغه دهلي ته لاړه او زه کلکتې ته را رهي شوم.

د پاکستان له جوړېدو ۸ کاله وروسته مې هغه د لاهور په (میو هسپتال) کې ولیده. د خپل ۷م ناروغ زوی د درملنې لپاره راغلې وه او زه د راشن اخیستلو لپاره راشن کارټ جوړولو ته روان وم.

هلته نه د ګرمو نکریزو جادويي خوشبو وه او نه د ګلونو ګلابي غوټۍ، نه زما پر بدن د وریښمو جامه وه او نه د راجدې په پزه کې د عقیقو نتکۍ، نه بلبلانو سندرې ویلې او نه ښکلې مارغان باغونو ته تلل او نه د سرې ویالې له غاړې د اصیلو ګلابو بوی راته.

د ریکشو، بسونو او ټرکونو شور وو، د ناروغانو چیغې وې، ژېړې مرژواندې څېرې وې، تر پینو بهېدونکې خولې وې. په ګرمۍ کې د سوځېدونکو ونو په څانګو د ناستو کارغانو کاغ کاغ ساندې وې او د ټنبټېدونکو، روانو، غورځېدونکو، پاڅېدونکو او مره کېدونکو خلکو هجوم و.

د راجدې په لاسونو کې د نکریزو پر ځای ناروغ زوی و او زما په لاس کې د ګلاب د غوټۍ پر ځای راشن کارټ و.

نه راجدې زه وپېژندم او نه ما هغه سمه وپېژندله. هغه له خپل مریض زوی او زه له راشن کارټ سره وړاندې لاړو.

بیا لکه د یادونو په ځنګل کې چې موږ دواړو ته چا غږ کړی وي. شا ته مو یو بل ته ور وکتل، د یوې شېبې لپاره ولړزېدو، ودرېدو او بیا بېرته روان شو.

هغې خپل ناروغ ماشوم ته دروا راوړله او ما خپلو کوچنیو خویندو ته اوره راوړل.

ماخذ: امرتسر کی یادیں (ناول)

لیکوال: اې حمید،

ژباړه: سمسور ودان


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ